# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد      بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم      از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com      afgazad@gmail.com

| Political | سیاسی |
|---|---|



انجنیر سید عبدالقادر


۱۱ اپریل ۲۰۱۵

## دیمن پرهیواد د عربستان تر رهبری لاندی د ائتلافی ځواکونو یرغل






۱- دیمن جګړی ته یوه لنډه کتنه :

۲ - د دی جګړی په اړوند دافغان دولت دریځ :

۱ - په امریکاکی دعربستان سفیر(عادل بن احمد الجبیر ) لومړی کس وو، چه دیمن په وړاندی یی دجنګ اعلان وکړ، او دمارچ د۲۶تمی نیټی راهیسی عربستان پرخپل ګاونډی هیواد یمن باندی دملګرو ملتو نود قبول سوو کنوانسیننو څخه په ښکا ره سرلغړونه دیو شمیر هم ګټوعربی هیوادونو سره یوځای، دامریکا ، بریتانیا اوفرانسی په کامله خو ښه، هوایی بریدونه تر سره کوی۰چه دپورتنی سفیر په وینا داجګړه دامریکا د سیاسی، لوجستیکی او اطلاعاتی حمایه لاندی ده۰ دجنګی کښتیو ترڅنګ په دې هوایی برید کی تر سلو ډیرو جنګی الوتوکو،چه (۸۵) یی داماراتو، قطر، بحرین، کویټ، اردن، مراکیش او سودان دی سهم اخستی دی۰ چه په سلګونه ملکی کسان دښځو اوماشومانوپه شمول یی شهیدان کړی اوتردوو زروپوری یی زخمیان کړی دی۰ دشعیه حوثی ملیشو او اردو دځوا کونو ترڅنګ، دیمن پخوانی ولس مشر علی عبدلله صالح وفادار ځوا کونه یی هم تر هوایی بریدونو لاندی راوستلی، او ډیر پوځی تأسیسات یی هم دمنځه وړی دی ۰ ویل کیږی چه حوثی شعیه مسلمانان د ایران د دولت له خوا په غیری مستقیم ډول حمایه کیږی۰د هوایی یرغل سر بیره بیاهم حوثی اونور یمنی ځواکونو دعدن

سرحدی ښار ډیره برخه تر خپل کنترول لاندی راوړی ده . او دتیرکال د سپیتمبرد میاشتی څخه ولسمشر عبد ربه منصور هادی دمخا لفینو د زور په نتیجه کی پایتخت پریښود اودیمن دوهم لوی ښار عدن او ورسته بیا عربستان ته وتښتیدی ۰ په لومړی سرکی دحوثی او ورسره ځواکونو هدف د فساده ډک دولت دمنځه وړل وه ، خواوس داسی معلویږی چه داجګړه به ډیره اوږده اومخی یی هم ډیرا خیدو پر حال دی ، ځکه نو معلومه سول چه د هوایی ځواکونو په زور نسی کیدلای، چه پخوانی ولس مشر بیرته دقدرت پرچوکی کښینوی۰ بل وریانت یی دمځکنی قواو دورتګ مساله ده ، چه عربستان او ائتلافی نفتی ګاونډیان یی د مځکنی جنګ توان اومهارت هم نه لری۰ په دی هکله عربستان دمصر، ترکیی او پا کستان څخه یی دهوایی ، جنګی کښتیو په شمول دمځکنی ځواک کمک غوښتنه هم کړی اوهغوی هم ورسره منلی ده ۰ دځینو سیاسی کار پوهانوپه اند دا غوښتنه به دیوه اقتصا دی مبادلی په نتیجه کی ترسره سی ۰ ددی جګړی دنورو اهدافو ترڅنګ په رښتینه توګه یوه نیابتی جګړه هم بلل کیدلایسی ۰ځنی کار پوهان دعربستان پر دولت دنیوکی تر څنګ داهم وایی چه سعودی دولت باید دمرحوم صدام حسین حالت په یاد کی راوستلی وای، چه یو ځل امریکا پرکویټ باندی وحملی ته وهڅا وه ، اوورسته یی بیا پر ده باندی حمله وکړل ۰ ددی جګړی مخی شاید بل ډول وی، په هر صورت دا دسعودی دولت سیاسی لویه تیر وتنه بلل کیدلای سی ۰ داسی کوښښ کیږی، چه ایران هم دي جګړی ته ور ننه باسی ، ولی ایران دجنګ د دوارو خواو تر منځ دسیاسی حل پلوی کوی ۰حوثی لښکری اوملګری یی کوښښ کوی چه دباب المندب کوچنی داوبو لاره چه دعدن په جنوبی قسمت کی موقعیت لری په خپل کنترول کی وساتی ، داسیمه دهند بحر اوسره بحیره سره منبلوی ، اودنړی(٦٥٪ ) تجا رت دهم دي لاری څخه تیریږی ۰ که دالا ره بنده سی دسویز کانال هم خپل اهمیت دلاسه ورکوی ،ځکه نودعربی ځوا کونو ډیر بمباردونه هم دعدن پر ښار او دغه سیمه کی تر سره کیږی ۰داسی معلو میږی چه جنګ خپل دری کلنی مرکز دسور یی څخه ویمن ته انتقالوی ، ځکه نودایران دبهرنیو چارو وزیر جواد ظریف د اپریل پراتمه عمان ته او بیا پاکستان ته سفر وکړ ،عمان په دی جګړه کی ځان نه دی اچولی ۰ په داسی حال کی چه ایران دوی جنګی کښتی داپریل پر۸ مه دعدن وخلیج ته ولیږلی امریکا خپل تسلیحاتی کمک دحوثی دمخالفینو سره بیاهم اعلان کړ، اودبهرنیوچارو وزیریی وویل۰ چه دایران دمداخلی په وړاندی بی تفاوته نسی پا ته کیدلای. په داسی حال کی دا څرګندونی کوی، چه دسعودی اودملګرو ښکاره ، دنړیوالو قبول سوو قوانینو څخه لیری یرغل نه یوازی تایدوی بلکه دهرډول کمک اعلان یی هم ورسره کوی ، اووایی چه موږ دیمن دقانونی دولت ملاتړ کوو، په داسی حال کی چه دسوریی ، لیبیا دشهید قذافی او اوکراین دقانونی حاکمیتونو په چپه کولو کی بیا مستقیم اوغیر مستقیم رول با زی کړ ، داده یوه امر یکا اودوه یی مخه ۰ روسیی بیا د ژراوربند غوښتنه کړیده ، استازیی دامنیت په شورا کی دیوه پریکړه لیک خامه دامنیت شورا واستازو ته د اپریل پر ۷ نیټه دترلو دروازو وشاته ور کړه ۰ پاکستان هم پر دوو لارو ولاړ دی ، دپاکستان دپاره ځکه مشکله ده چه دیوی خوا دعربستان دکلنو اقتصادی کمکونه نسی پریښولای ، دبلی خوا د خپلی کورنی دشعیه اوسنی حاده جګړه هم نسی هیرولای ، دبله طرفه دایران سره دښو اړیکو په درشل کی هم دی ۰ ګرچه د۱۹۷۰ کال څخه راپه دیخوا دعربستان دپوځی ښوونی اوتمرین اصلی همکا ران پاکستانی پوځیان دی ، اوس هم ۷۰۰ پاکستانی پوځیان هلته په ښو ونه بوخت دی ۰ داهم باید دیاده ونه باسو ، چه پاکستان په۱۹۷۰ کال کی په اردن کی د فلسطینی پاڅون په ځپلو کی پوره سهم واخیست، دځینوسیاسی کارپوهانو په اند بیا دخپلی تجزیی سره هم مخامخ اوبنګله دیش ځنی جلاسوو. مصر دعربستان داقتصادی کمکونو له کبله ددی ضد بشری اوغیری توجهی جګړی څخه هم مخ نسی اړولای ، ګرچه مصر ته به هم بنی پا یلی ونلری ۰

۲- افغان دولت هم خپل ملاتړ دسعودی دولت څخه په داسی حال کی اعلان کړ، چه یرغل هم دسعودی له خوا تر سره سوی دی ، اوهیڅ ډول توجیه دسعودی دولت وملا تړی ته نه لیدل کیری ۰ډیرشمیر افغان سیاسینو اومستقیلو سیاسی کا رپو هانو دافغان دولت دا پریکړه غیر مسؤولانه وبلل، او وایی چه افغان دولت باید خپله بیطرفی وساتی، اوپه دې نیابتی جګړه کی ځان وانه چوی، ځکه افغانستان نیژی ددرونیمو لسیزوراهیسی دټپل سوی جګړی په لمبو کی ولاړ دی ۰ دا څرګندونی په داسی مهال کی افغانان کوی، چه افغانستان تراشغال لاندی خپلی شپی او ورځی تیروی ، داشغال په وړاندی په جګړه کی دوطن د ویرانی ترڅنګ په سل ها وو زره افغا نانو خپل خوږ ژوند دلاسه ورکړیدی۰ نو په داسی یو اشغال کی چه دافغانستان تاریخ یی په خپلو پاڼو کی نه لری ، څنګه کیدلای سی، چه افغانستان دی مستقل سیاست ولری، پورتنی نظریات بیله دی چه دخلګو د اذهانو مغشوشولو په معنا وبلل سی ، بل څه نه دی ۰ افغانستان دنوروتر اشغال لاندی هیوادونو په څیر بهرنی اوکورنی سیاست یی باید د یرغلی ځواک دګټو منعکس کونکی وی ۰ ځکه نو دافغانستان اوسنی بهرنی اوکورنی سیاست هم داسی بڼه اوشکل لری ۰تمت باا لخیر

۴-۱۰ - ۲۰۱۵-